HUMAN RIGHTS WATCH
&
MEDIA ORGANIZATION
WHMO

# مطبوعاتي اعلامیه

**کابل – افغانستان**
**نیټه: ۱۴۰۰/۱۲/۱۸**

مطبوعاتي اعلامیه

کابل- افغانستان

نیټه:

افغانستان د امېندارو مېرمنو لپاره په آسیا کې تر ټول مرګونی هېواد

د بشري حقونو او رسنیو د څار اداره له اندېښنو سره سره په نړیواله ټولنه غږ کوي تر څو د دغه لوی ناورین مخه و نیسي او افغان میرمنو او ماشومانو ته په دې برخه کې بېړنۍ مرستې ورسوي.

د ملګرو ملتونو د راپورونو په حواله افغانستان د اسیا هغه هېواد دی چې د زېږون پر مهال په‌کې ډېرې میندی مري. دوی وايي په هرو دوو ساعتونو کې په دې هېواد کې یوه امیندواره مېرمن خپل ژوند له لاسه ورکوي.

د بشري حقونو او رسنیو د څار ادارې د موندنو پربنسټ، روغتیا پالان دا شمېره ټکان ورکوونکې بولي او زیاتوي، د نړیوالو له لوري د مرستو بندېدل او د یو شمېر روغتیایي مرکزونو تړل کېدل په افغانستان کې د زېږون پر مهال د مېرمنو د مړینې د ډېرېدو لامل بولي.

د اسیا په کچه افغانستان هغه هېواد دی چې د زېږون پر مهال په‌کې ډېرې میندې خپل ژوند له لاسه ورکوي. ملګرو ملتونو په دې اړه اندېښنه څرګنده کړې او ویلي یې دي چې په افغانستان کې د زېږون پر مهال په هرو ۱۰۰ زرو امېندارو مېرمنو کې ۶۳۸ یې مري. د ملګرو ملتونو د وګړو صندوق یا (UNFPA) په یوه تازه خپور شوي راپور کې خبرداری ورکړی چې که دې ستونزې ته رسېدنه و نه‌شي د میندو د مړینې کچه به نوره هم لوړه شي، ځکه په وینا یې اوس‌مهال په هرو دوو ساعتونو کې یوه مېرمن د زېږون پر مهال مري.

د بشري حقونو او رسنیو د څار اداره، دا شمېره ټکان ورکوونکې او د اندېښنې وړ بولي، ځکه د ګڼ شمېر روغتیايي مرکزونو د تړل کېدو له کبله خورا ستونزې راپورته شوې چې نړیواله ټولنه باید د افغان میرمنو دغو ستونزو ته په کتو سره خپلې بشري مرستې ډیرې کړي تر څو په افغانستان کې د مور او ماشوم د مړینې کچه را ټیټه شي

اړیکه:
عزت الله اکبري، د بشري حقونو او رسنیو د څار ادارې د رسنیو مشر
د اړیکو شمېرې: ۰۷۹۹۲۴۲۸۷۳ - ۰۷۷۵۳۳۰۴۴۴
برېښنا لیک: media@whmo.org